AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پیرمحمد کاروان

۲۰۲۶/۱۰/۲۷

# ترخه پوښتنه دا ده چې وطن به کله روغ شي

گلان د وطن تړي له نرگسه تر گلابه
ته راشه د شبنم او د رڼو اوبو سېلابه

د ژوند د پټي باري په غاټولو پسي مړي شوې
ژوندی ځپي ورشينده برخمن شي له ثوابه

په دښتو په پېچومو کې رادرومه سترې مه شې
د غرونو سر ته خېژه د گلونو انقلابه

اروا د وطن تړې ده يو څوک بايد پيدا شي
چې ژر يې کړي د مينې په خوږو اوبو سېرابه

ترخه پوښتنه دا ده چې وطن به کله روغ شي
له غيبه را پيدا يې شه خوږه خوږه ځوابه

کولاله! د وطن له خاورې داسې منگی جوړ که
چې ترنگ يې خوندور وي د چندنو له ربابه

کاروان د مينې تړی دی د سرو او سپينو نه دی
غزل يې ځکه نه غوړځي له خوند و آب و تابه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولـئ